# زما ماشوم له ناورین سره مخ دی! زه له چا سره اړیکه ټینګه کړم؟

**که چېرې زخم او يا د زخمي کېدو ګواښ شتون ولري، 911 شمېرې ته زنګ ووهئ**

که چېرې ستاسو ماشوم د ژو خپګان، تروما، تاوتریخوالي، د سرغړوني چلند، او یا د نشه یي توکو او الکولو تر اغیز لاندې راغلی وي، د نیو جرسي (NJ) د ماشومانو د پاملرنې له سیستم سره په 1-877-652-7624 شمېرې اړیکه ونیسئ. دا هره ورځ 24 ساعته خلاص وي.




## د ماشومانو د پاملرنې سیستم څه شی دی؟

دا د نیو جرسي د چلنیزې روغتیا وړیا او یا کم لګښته سیتم دی، تر 21 کلنو عمر لرونکو ماشومانو لپاره. دا په شرایطو د برابرو ځوانانو لپاره د رواني روغتیا ملاتړ، د نشه یي توکو درملنه، او د ذهني او رشدي معلولیت خدمتونه په همغږۍ سره وړاندې کوي.

### ښايي لاندې موارد پکې شامل وي:

- **د ځواب ورکولو او د موبایل د تثبیت خدمتونه (MRSS)**, له یوه ډاکټر سره د ناورین یا تاوتریخوالي د کمښت په اړه په کور او یا بل هر ځای کې مشوره ترسره کول.
- **BioPsychoSocial (BPS)** ارزونې یو ځل کیږي, په کور کې د جواز لرونکي ډاکټر لخوا ستاسو د ماشوم ارزونه چې آیا هغه کولای شي د چلندیز ملاتړ او خدمتونو څخه ګټه واخلي.
- **د پاملرنې د مدیریت اداره (CMO)** نښلوي کورنۍ د هغو ځوانانو لپاره د درملنې خدمتونو ته اړتیا لري چې د پام وړ احساساتي او چلنیزې روغتیا حالات یې له ځان څخه ښودلي/تجربه کړي دي اندیښنه.
- **په کور کې پراخ خدمتونه ،(IIH)** جوړ شوي ترڅو چې په هغو چلندونو باندې تمرکز وکړي چې - په کور، ټولنه او یا ښوونځي کې ترسره کیږي. ښايي په دې کې فردي، ډله ییزې او کورنۍ ناستې شاملې وي.

## دا خدمت څومره لګښت لري؟

دا سپارښتل شوي او جواز لرونکي خدمتونه د بېلابېلو منابعو په واسطه اداینه ترلاسه کوي، لکه Medicaid، د نیو جرسي د کورنۍ پاملرنې او سوداګریزې بیمې او یا ځانې اداینې. له کورنیو څخه به وغوښتل شي چې د بیمې معلومات چمتو کړي.

## که چېرې زه د خپل ماشوم لپاره له کور بهر (استوګنیزې او یا کورنۍ ډله ییزې) درملنې غوښتنه وکړم؟

دا غوره ملي چلند دي چې ځوانانو ته د دوي په کور او یا ټولنه کې خدمت ترسره شي. له کور بهر درملنه د حل د وروستۍ لارې چارې په توګه په نظر کې نیول کیږي او د ټولو هڅو څخه له ستړیا وروسته د ټولنې پر بنسټ پلان په واسطه پلټل کیږي.

NEW JERSEY DEPARTMENT OF CHILDREN AND FAMILIES